ډاکترعبدالرحمن زمانی

د ۲۰۲۰ کال د اپریل ۱۹

# د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کېدو د معما په هکله

## لومړی برخه: د پاکستان د لومړني صدراعظم لیاقت علي خان وژل کېدل

د نن نه څه کم ۶۹ کاله مخکې، د ۱۹۵۱ م کال د اکتوبر د میاشتې په شپاړسمه (۱۶) نیټه د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کېدو د کلیزې په مناسبت هر کال په پاکستانۍ رسنیو کې خطا – رسا څه ناخه لیکل کیږي. خوددغه پیښې په اړه تقریباً ټول افغانان، د هغو په ګډون چې په پاکستان کې یې د هجرت په وخت زده کړې کړي، او شاید په تعلیمي نصاب کې یې د مطالعه پاکستان په نامه مضمونونه هم لوستلي، یا خو هیڅ معلومات نلري، او یا هم ډیر لږ او ناقص معلومات لري . شاید تیر کال د هیواد خپلواکۍ د ګټلو د سلمې کلیزې په ویاړ په کابل کې د محترم محمد عارف غروال لخوا «د غازیانو او اتلانو یاد» کتاب لومړنۍ کتاب وي، چې په خپریدو سره یې د لومړي ځل دپاره د یوه افغان لخوا دغې موضوع ته زیاته اشاره شوې ده .

زه پدې وروستیو ورځو کې پدې هکله د ځوان لیکوال ښاغلي سراج الحق ببرک زي لخوا د افغان جرمن آنلاین او افغان سباوون /دعوت میډیا ۲۴ په ویبسایتونو کې څلورو خپرو شوو څیړنیزو مقالو ذې ته وهڅولم چې پدې هکله، په خاصه توګه ددغه وژنې د انګیزې په هکله چې لا تر اوسه د نورو ګڼو سیاسي وژنو په شان یوه معما ده، ګرانو هیوادوالو او د افغانستان د معاصر تاریخ مینه والو ته یو څه ولیکم. خو باید اعتراف وکړم چې په اوسنیو شرایطو کې به دا کار له یوې خوا د کرونا د ویروس له امله زما د کار د حجم د زیاتوالي د ستونزې او له بلې خوا د اړتیا وړ اسنادو او مدارکو ته د لاسرسي د مشکلاتو له امله یو ستونزمن کار وي او له نیمګړتیاو به خالي نه وي .

### لیاقت علي خان څوک و؟

نوابزاده لیاقت علیخان ، چې په پاکستان کې د قاعد ملت او شهید ملت په نومونو هم یادیږي، د بریتانوي هند د پنجاب په ایالت کې زیږیدلی او د نواب رستم علیخان زوی ؤ چاته چې انګریزانود نواب بهادر، رکن الدوله او شمشیر جنګ القاب هم ورکړي وو. [1] هغه د انګلستان د اکسفورډ په پوهنتون کې لوړې زده کړې کړي او دهند د نیمې وچې د آزادیدو او په هند او پاکستان تر ویشل کیدو دمخه د بریتانوي امپراتورۍ د هند د عبوري حکومت په کابینه کې د مالیې د وزیر دنده درلوده.

لیاقت علي خان د پاکستان تر جوړیدو وروسته د هغه هیواد لومړنی صدراعظم وټاکل شو چې د باندنیو، دفاع او کامنویلټ او کشمیر د چارو وزارتونه یې هم چلول . هغه د محمد علي جناح یو نږدې ملګری او ښي لاس ګڼل کیدو او د هغه د مړینې وروسته یې د مسلم لیګ د ګوند مشري هم ترلاسه کړې وه .

څیړونکي لیاقت علي خان د خپل هیواد د خارجي سیاست بنسټ ګر او جوړونکی بولي . که څه هم تر دوهمې نړیوالې جګړې او د امریکې د متحده ایالاتو او شوروي اتحاد تر مشرۍ لاندې په دوو قطبونو د نړۍ تر ویشل کیدو وروسته لیاقت علی خان د ناپیلتوب د پالیسی اعلان وکړ ، خو وروسته ولیدل شوه چه دا پالیسي لویدیزې نړۍ سره پر نږدې مناسباتو ولاړه وه . په خاصه توګه د ۱۹۵۰ م کال د مې په میاشت کې د امریکې متحده ایالاتو ته د لیاقت علی خان سفر او د امریکې

---

[1] . Liaquat Ali Khan: A worthy successor to the Quaid, Prof Dr M Yakub Mughal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د متحده ایالاتو د وخت جمهور رئیس، هنري ترومن، سره کتل د هغه هیواد د خارجي پالیسۍ د اساسي طرحې راتلونکې کړنلاره وټاکله .



د پاکستان صدراعظم لیاقت علی خان او د امریکې جمهور رئیس هنري

ددغه کتنې په نتیجه کې، پاکستان د ملګرو ملتو لخوا په ۱۹۵۰ کال کې د شمالي کوریا په وړاندې، د شوروي اتحاد د سخت مخالفت سره سره، د طاقت د استعمال ملاتړ وکړ. تر هغې وروسته ادا مناسبات د «سیتو» او «سنتو»[2] په دوو نظامي تړونونو کې ګډون سره نور هم ټینګ شول . په نتیجه کې د پاکستان او شوروي اتحاد تر منځ واټن زیات شو او بیا په ۱۹۵۷ م کال کې شوروي اتحاد په ملګرو ملتو کې د پاکستان په وړاندې خپل ویټو د حق نه کار واخیست .

## د پاکستان د لومړني صدراعظم لیاقت علي خان وژل کیدل

لیاقت علي خان د ۱۹۵۱ م کال د اکتوبر د میاشتې په شپاړسمه (۱۶) نیټه د پاکستان د مسلم لیګ ګوند د راولپنډۍ د څانګې یوې سترې عامې غونډې ته چې په زرهاوو خلک ورته راټول شوي وو، د مهمې وینا دپاره د هغه وخت د پایتخت کراچۍ نه ورغلی ؤ. دغه غونډه د راولپنډۍ د ښار د مري روډ په کمپنې باغ کې جوړه شوې وه. د انګریزانو د ختیځ هند د کمپنۍ دغه باغ چې وروسته د لیاقت باغ په نوم و نومول شو، د سترو سیاسي غونډو د جوړیدو مرکز او هماغه ځای و چې څو کاله وروسته د پیپلز ګوند مشره او پخوانۍ صدراعظمه، بې نظیربوټو ، هم یوې بلې عامې سیاسي غونډې ته د وینا نه وروسته د وتلو په حال کې ووژل شوه .

د امریکې د مرکزي استخباراتو اداري CIA پدې هکله د ۱۹۵۱ کال د اکتوبر په اتلسمه (۱۸) نیټه یو محرمانه ریوټ استولی و، چې پنځوس کاله وروسته په ۲۰۰۰ م کال کې د امریکې د خارجه چارو د وزارت په خوښه د محرمیت نه خلاص شو. په دغه ریوټ کې چې دلته یې یو انځور هم خپرېږي، په لومړي سر کې د رسمي منابعو له مخې د پیښې څرنګوالي ذکر شوی دئ، چې لنډیز په لاندې ډول وړاندې کیږي . (د یادونې وړ ده چې د CIA په دغه ریوټ کې د پیښې نیټه په تیروتنې سره د اکتوبر ۱۵ نیټه لیکل شوې ده): « لیاقت علي خان شاوخوا پاوکم څلور بجې د غونډې ځای ته ورسید او د خاصو کسانو دپاره جوړ شوي ستیژ کې کښیناست .

غونډه پیل شوه. تر تلاوت وروسته د راولپنډۍ ښاروال خپله سپاسنامه او هرکلي وړاندې کړ او بیا د راولپنډۍ د مسلم لیګ مشر، لیاقت علي خان ته بلنه ورکړه چې خپله وینا وکړي . لیاقت علیخان د وینا دپاره مایکروفون ته ودرید او دخپلې وینا په پیل کې یې د «برادران ملت» کلمات لا ویلې نه وو چې په دوو ډزو په ټټر وویشتل شو او پر ستیج وغورځید.

---

[2] . د جنوب ختیزې ایشیا د تړون اتحادیه (Southeast Asia Treaty Organization ) یا سیتو (SEATO)، یو نظامي تړون و چې په جنوب ختیزې ایشیا کې د کمونیزم د نفوذ او یرغل په وړاندې ۱۹۵۴ م کال کې د امریکې، استرالیا، بریتانیې ، پاکستان، تایلند، فرانسې، فیلیپین او نیوزیلند هیوادونو امضا کړ. ددغه سازمان د نوم په خلاف د دې تړون اکثره غړي د جنوب ختیزې ایشیا د سیمې نه بهر وو خوګډ اهداف او علایق یې درلودل . بیا په ۱۹۵۶ م کال کې د سینټو د تړون اتحادیه Central Asia Treaty Organization (CENTO) جوړ ه شوه. په دې تړون کې هم پاکستان برخه واخیسته.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د هغه سیاسي سکرتر او د مسلم لیگ محلي مشرانو په چټکۍ سره هغه اوچت او سمدلاسه له ځایه ویستلې او روغتون ته ورسولو، چیرته چه وینه ورکړ شوه خو د زخمونو له امله مړ شو. قاتل ځاي پر ځاې تومانچه په لاس نیول شوې او د خلکو لخوا وژل شوي دئ . د هغه د وژل کیدو خبر ډیر ژر کراچی ته ورسید او سمدلاسه د کابینې غونډه جوړه شوه. د دغه سترې پیښې له امله ځلویښت ورځې سرکاري ویر (ماتم) اعلان شو او تصمیم ونیول شو چې سر له سبا به بیرغونه د دریو ورځو دپاره نیم ځوړند وي .»


Approved For Release 2000/08/29 : CIA-RDP79S01011A000500060007-2

CONFIDENTIAL

SPECIAL NOTE

THE ASSASSINATION OF THE PRIME MINISTER OF PAKISTAN

The Prime Minister of Pakistan, Liaquat Ali Khan, was assassinated at Rawalpindi on October 15. Karachi Pakistani home service in English described this assassination:

"We announce with feelings of profoundest grief and deepest sorrow the death of the Prime Minister, Mr. Liaquat Ali Khan. He was shot dead in Rawalpindi this afternoon. His assassin (Kas Akhbar) of Hazara, was killed on the spot by the crowd. The Prime Minister had just stood up to address a public meeting when the attack was made.

"There was a crowd of 15 to 20 thousand to hear the Prime Minister. He arrived at the meeting at a quarter to four and was greeted with shouts of Pakistan Zindabad and Liaquat Ali Khan Zindabad.

"After he had taken his seat on the dais the President of the city Moslem League, under whose auspices the meeting was being held, announced that the meeting would be formally opened with the recitations from the Koran. After this Mr. Liaquat Ali Khan was presented with an address of welcome, after which he rose to address the meeting. He had hardly uttered the first words when two shots rang out, hitting him, he sank on the dais.

"His political secretary and local Moslem League leaders rushed to pick him up and he was immediately removed to the hospital, where a blood transfusion was given. Mr. Liaquat Ali Khan, however, succumbed to his injuries.

"The assassin was caught on the spot with revolver in hand and was done to death by the crowd.

"The news of his death was received in Karachi soon after and the cabinet immediately went into session.

"A communique issued in Karachi a short while ago expresses a deep sense of grief at the tragedy, state mourning will be observed for a period of 40 days. Flags will fly at halfmast for three days from tomorrow.

OCT 18 1951

NE-4

State Dept. declassification & release instructions on file

CONFIDENTIAL

Approved For Release 2000/08/29 : CIA-RDP79S01011A000500060007-2

جیورج فیدرلینگ ( George Fetherling ) د قتلونو په کتاب ( The Book of Assassins) کې پدې هکله لیکي چې لیاقت علي خان د سید اکبر لخوا ووژل شو. هغه چې په اوریدونکو کې ناست و، پر خپل ځاې ودرید او دوه ډزې یې وکړې. صدراعظم په بیړه روغتون ته ورسول شو او هلته د زیاتې وینې د ورکولو او بیرني جراحي عملیاتو سره سره په څو ساعتونو کې مړ شو. سید اکبر د دوهم ډز نه وروسته د بل اوریدونکې لخوا ونیول شو او په دغه هڅه کې یو دریم ډز هم وشو. هغه د یوه پولیس لخوا له پښو وغورځول شو، او د مسلم لیگ د ملي گارد غړو قاتل د خپلو مراسمو په نیزو ووهلو او هغه په هماغه ځاې کې مړ شو.

سید محمد ذوالقرنین د اسلام آباد د فدرالی حکومتي کالج متقاعد پروفیسر د پاکستان د تاریخ او کلچر د ژورنال په *No.1, 2010* گڼه کې د «صدراعظم لیاقت علی خان د وژلو سرنوشت سازه سفر» په مضمون کې د پاکستان ټایمز (لاهور) د ۱۹۵۱ د اکتوبر د ۱۷ نیټې په حواله ، د راولپنډۍ د ای پی د خبریال په وینا چې د غمیزې شاهد وو، لیکي چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

« سمدلاسه وروسته له هغه چې وژونکې ډزې واوریدل شوې ، نږدې ولاړو پولیسو  هوایي  ډزې وکړې او ګڼ شمیر خلک، چې نه پوهیدل څه  وضعه ده، وارخطا شول .  یو شور او ګډوډې پیښه شوه . خلکو د خپل ژوند د ژغورلو لپاره منډې وهلی.

صدراعظم د بیهوشۍ په حالت کې د مشتاق احمد ګورباني په موټر کې ګډ پوځي روغتون ته ورسول شو. په روغتون کې کرنیل ډاکټر میان او کرنیل ډاکټر سرور پداسې حال کې د مردکیو د ویستلو ناکامه هڅه کوله چې هغه د ورپیښو ټپونو له امله ساه ورکړې وه.[3] لیاقت علی خان په څلور بجو او پنځوسو دقیقو مړ شو. د پیښې نه دوه ساعته وروسته حکومت اعلان وکړ چې قاتل د افغانستان د خوست یو افغان و. هغه د C.I.D یا جرایمو د څیړنې د څانګې The Crime Investigation Department د شکمنو په لست کې نه و. تورن افغان، سید اکبر، د افغانستان د خوست د ځدرانو د قوم د مشر ببرک خان زوې و».

د لیاقت علیخان د وژلو په  انګیزې  په وروسته بحث وشي، خو ښه به داوي چې د قاضي محمد منیر په مشرۍ د لیاقت علي خان د وژل کیدو د پیښې د څیړلو د ټاکل شوي کمیسیون د ۸۹ عیني شاهدانو د تحقیق په لړ کې د څو کسانو ورکړ شوو وینااوو ته ګوته ونیسو:

– ډاکټر کرنیل میان کمیسیون ته  وویل  که چیرې صدراعظم په ټټر ویشتل شوې نه وای، نو د هغه د ژغورلو امکان موجود و.  د هغه په وجود درې ټپونه وو. دوه د مردکیو د ننوتلو ټپونه او دریم د مردکي د وتلو ټپ . هغه وویل چې په کلکه یې د زړه د مساژ په ورکولو د هغه د ژغورلو کوښښ وکړ خو کومه نتیجه یې ورنکړه.



On October 16, 1951, Pakistan's first prime minister Liaquat Ali Khan was assassinated in Rawalpindi's Company Bagh (also known as East India Company Garden) during a public meeting of the Muslim City League.

– پیاده ساتونکي لعل محمد د مردان اوسیدونکي او په پښتو پوهیدلو. هغه د پولیسو د مشر خان نجف خان غږ واورید چې په پښتو یې ویل «دا چا ډزې وکړې؟  هغه په نښه کړئ (دا چې ډزې پرې وکړئ)» هغې زیاته کړه چې د پولیسو د مشر دامر خلاف چې پر قاتل ډزې وکړی، هغه څکه هوایي ډزې وکړی چې په تومانچې ډزکوونکي کس یې نه لیدو.

– لومړني عیني شاهد لعل دین قصاب په خپل شهادت کې وویل چې هغه لومړني سړي و چې پر قاتل سید اکبر یې حمله وکړه . څرنګه چه صدراعظم د «برادران ملت» کلمات وویل، ما د دوو ډزو آواز واورید.  ښې لور ته مې یو پټان (پښتون)  ولید چې په زنګونونو ولاړ او  ښې لاس د پورته کیدو هڅه کوله .  هغه مې سمدلاسه ونیولو اوپه چټکۍ مې تاوکړ. سړي د تومانچې دریم ډز وکړ، خو ګولی خطا لاړه .

– محمد شاه، کوم چې سب انسپکټرو، وویل چې هغه سټیج سره نږدې ځینې ماشومان کنټرولول، کومو چې د صدراعظم مخه بندوله . کله چې هغه د ۱۳ ګزه په واټن دیوه سړي  لخوا دوه ډزې واوریدې، هغه سړې لا پر زنګنونو او تومانچه

---

3 . The Daily Civil & Military Gazette, October 17, 1951



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پلاس کې درلوده. هغه خپله تومانچه راوویسته او د هغه په لور منډه کړه. هغه لاهم د درې یا څلور گزه په فاصله کې وکله چې هغه دریم ډز وکړ. کله چې شاهد سړي ته ورسید هغه د یو چا لخوا نیول شوی وو مگر د څان خوشې کولو لپاره یې مبارزه کوله . ده بیا په هغه باندې پنځه ډزې وکړې ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هغه مړ دی . محمد شاه وویل هغه پرته له دې چې څه شئ یې د ګولیو مخه ونیسي، پر هغه مستقیمې ډزې وکړی .

– دلاور خان یوولس کلن هلک، د تورن قاتل ،سید اکبر خان زوې، وویل چې د پلار مخې ته ناست و. هغوی سټیج ته مخامخ په څمکه ناست وو . دلاور خان څرگنده کړه کله چې لومړي وزیر د خبرو کولو لپاره راپورته شو، هغه ولیدل چې پلار یې تومانچه راوویستله او ډز ی یې وکړې . په لومړي سر کې شاهد (دلاور خان) فکر کاوه چې پلار یې په ایبټ آباد کې د خلکو په شان د درنو میلمنو په ویاړ ډزې کولې . خو کله چې یې سټیج ته وکتل نو صدراعظم یې ونه موند . بیا په شنه یونیفورم کې څینو سړو د هغه پلار ونیوو او په نیزو یې سورې سورې کړ .

## د افغانستان د حکومت دریځ

کله چې د سید اکبرخان ببرکزي د وژل کیدو خبر کابل ته ورسید نو د افغانستان واکمنې کورنۍ دده ورونو ته خبر ورکړ چې دوی په جوماتونو کې د سید اکبر خان ببرکزي فاتحه نشي اخیستلای . حکومت د هیواد ټول مطبوعات د هغه د مړینې دخبر د نشرولو نه منع کړل .[4]

(نور بیا)

---

[4] . غروال، محمد عارف، د غازیانو او اتلانو یاد کتاب، ۱۷۷ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ